بسم الله الرحمن الرحيم

# مصلح اومجاهد ملا نجم الدين آخونزاده
# د« سـعـيـد افغانی » په لـيکونوکی

لـيـکـنـه او تـولـوونـه :
امـيـن الـديـن « سـعـيـدی »
دافغان اسـتراتـيژيکو څـيرنيزمرکز
اودحق دلاری کلتوری تولنی مسؤل مدير – جرمني

## گـرانـو لوستونکو :

**خدايبخښلی دکتور مولوی محمد سعيد « سعيد افغانی » دخپل کتاب کی چی « زما ژوند» تر عنوان لاندی ليکلی وه او په کال ( ۱۳۶۵ ) هجری کی خپور شوی دمصلح او مجاهد ملا نجم الدين آخونزاده صاحب په هکله داسی ليکی:**

زه دخپل پلار [۱] سره څو واری « هدی » ته د مرحوم ملا نجم الدين اخونزاده صاحب زيارت ته تـلی يم او اکثر به زما پلار د روژی د مبارکی مياشتی په اولو ورځوکښی دقرآن کريم خـتـم دنجم الدين اخند زاده په جامع جومات کی دزيارت تر څنگه کوه او هلته به د روژی د مياشتو په تراويحو کښی دری شپو کی ټول قرآن کريم ختم او لوستل کيده. دی ختم ته دمشرقی، ننگرهار حتی د سرحداتو ډيـر خلک را ټوليدل. هلته په هغو شپو کی تود لنگر د هغه ځای د شيخانو د اسلام پور د پاچايانو په مشری چليده. په دی لنگر کی زرهاؤ خلکو ته ډوډی ورکوله کيدله، ډير مالونه حلا ليدل او زياتی وريجی او ډوډی پخيدلی.

دی لنگر ته د روژی په اولو شپو کی زيات خيراتونه او مرستی رسيدلی. مرحوم نجم الدين آخونزاده صاحب دوخت يوه عالم او سالک ؤ. دی د صوات مرحوم ملا غفور آخونزاده مريد ؤ. دی د قادری په طريقی کی پـير او مرشد گرځيدلی او په زرهاؤ مريدان او په سلها ؤ ماذونان ئي در لودل. د نجم الدين آخند زاده صاحب مأذونان په ټول افغانستان کی د پوره شهرت خاوندان ؤ.

نجم الدين آخونزاده صاحب لوی مجاهد ؤ او دانگليسانو په مقابل کی ئی د امير عبد الرحمن په وخت کی زياتی مشهوری غـزاگانی کړی دی. دی دامير عبد الرحمن په عصر کی دمهمندو د قام په « جړوبی » علاقی کی اوسيده او بی د امير د اجازه ی څخه د انگليسانو

په مقابل کی ئی جهاد کولو تر داسی اندازی دده جهاد قوت موندلی ؤ چی انګلیسانو امیر عبد الرحمن خان ته یو لیک واستوه چی په هغه کی دری لاندی مطالب درج ؤ .

۱- ملا نجم الدین د سر حد ځخه لری کړه ځکه دی زمونږ په قابل کی د جهاد پارونه کوی.
۲- ځرخی سپه سالار چی په کنړ کی دی هغه د مجاهدینو سره مرسته کوی نو هغه له دی ځای ځخه وغواړه او بل چیری ئی واستوه .
۳- دافغانستان او دسرحد دخلکو سره تک او راتګ بند کړه.

امیر عبد الرحمن خان د انګلیسانو په ځواب کی داسی ولیکل:

۱- نجم الدین آخونزاده صاحب زما په واک نه دی هغه د مهمند و په آزاده سـیمه کی او سیږی او په خپل سر دتاسو په مقابل جګړی تنظیموی، زه په خپله هم د هغه د زیات شهرت او اعتبار ځخه داریږم. دی دلته په افغانستان کی زیات مریدان او مخلصان لری او خلک په ده باندی د ولایت دومره قوی عقیده لری چی که دوی چیری پس له محمد صلی الله علیه وسلم په چا باندی د رسالت عقیده منله نو به په دی باندی به ئی دپیغمبری ایمان راوړی وی نو بنه داده چی د افغانستان ځخه بیرون وی.

۲- زه حاضریم چی ځرخی سپه سالار دستاسی دلیکنی په اساس دکنړونو ځخه بدل کړم خو په دی شرط که چیری هلته د تاسو په ضد وضعه زیاته ورانه شوله مسؤلیت به ئی زما په ذمه نه وی ځکه چی زما به فکر د ځرخی سپه سالار وجود هلته چی پوه او مدبر شخصیت دی دستاسو په ګټه دی.
۳- لطفآ موضوعات لږ دقیق وځیـړی هغه داچی دافغانستان او سرحدی خلکو تر مینځ پولی ارتی او دوی تر مینځه د وروری روابط نه شکیدونکی علایق دی چی هیچا ته دا امکان نه میلاویږی چی ددوی تر مینځه تک او راتګ بند کــړی. او که څوک دی کار ته اقدام وکړی ؤ به ئی نشی کړی - ځکه ورور د ورور ځخه جداکول او خپل دخپلوان ځخه بندول آسان کار نه دی او هغه هم بیا په داسی ارته سیمه اوبیدیا کی.

وائـــی: د امیر عبد الرحمن خان په یاداشتونو کی راغلی دی چی ده په پټه د مرحوم نجم الدین آخندزاده صاحب سره رابطه درلوده او په مخفی ډول ئی خلک د انګلیسانو په مقابل کی پارول خو په ظاهر کی د انګلیسانو سره د عدم تعرض متعهد ؤ.

---

(۱)مولوی عبد المجید د مولانا سید امیر زوی په قوم صافی دلغمان د ولایت دعمرزیو په قریی کی د خیر آباد د کلی او سیدونکی دی. دی دخپل دوخت لوی مجاهد ؤ او د افغانستان

**داستقلال او آزادی په جهاد کی یی پوره مؤثــره بر خه درلوده او دخپلو قومی ځوانانو ، مشرانو ، شاګردانو او پیروانو سره د انګلیسانو په مقابل کی دډکی ، تورخم ، او ناقی په سیمو کی جنګیدلی دی.**

د مقالي نوم:
**مصلح اومجاهد ملا نجم الدين آخونزاده**
**د« ســعـيـد افغانی » په لــیکونـوکی**
لیکنه اوټولوونه :
امین الدین «سعیدی »دافغان استراتیژیکو څیړنیزمرکز
اودحق دلاری کلتوری ټولنی مدیر مسؤل – جرمني

پته :
saidafghani@hotmail.com بریښنا لیک :